مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

یونس نگاه

۲۰۲۲/۰۶/۰۶

# طالباني اداره او د اوبو ناورين

افغانستان په نامناسب وخت کي ناسم اړخ ته لوېدلی دی. په داسې وخت کې چې هېوادونه، د نسبتاً اغېزمنو حکومتونو، د ځانګړې څېړونکی او پانګه اچونکي موسساتو، او خوځنده پوهنتونونو او بازارونو په درلودلو سره، د بی ساری چاپېریالي ستونزو په وړاندې د بې وسۍ احساس کوي. افغانستان د داسې ځواک منګولو ته لوېدلی، چې له هر کار او تدبیر سره یې ځان په شخړه اړولی دی. د ښوونځیو په تړلو یوازې په میلیونونه ماشومان او تنکي ځوانان له لیک لوست څخه نه محرومېږي یا د متخصصو کارکوونکو په شړلو او پر ټولنیز ژوندانه بندیزونه یوازې د افرادو او مشخصې پرګنې اساسي او مدني حقوق تر پښو نه لاندې کوي؛ بلکې ټول ملت د پاڼ پر ژۍ دروي. هغه څه چې زموږ پر هېواد تېرېږي، د طالبانو د کورنیو په ګډون ټول له ژورو بحرانونو سره مخ کوي. ازادي او ولسواکي، مسوول حکومت او تخصصي بنسټونه تر هر بل وخته په حیاتي اړتیا اوښتي دي. باید داسې لار ته ځان سم کړو، چې د مخ پر زیاتېدونکو ننګونو پر وړاندې په پوره ځواک سره راټول شو.

د اوبو له کمبود سره مبارزه، زموږ مخکې یو ملا ماتوونکې مبارزه ده. سیاسي تبلیغاتو داسې ذهنیت جوړ کړی، چې زموږ هېواد د اوبو غني سرچینې لري. په کال کې د ۷۵ میلیونه مترمکعب اوبو درلودل، د مستو سیندونو د تصویرونو ښوول او داسې تېرایستونکي تبلیغات لکه «اوبه ورکوو، ډالر غواړو»، «نفت راکړه، اوبه درکوو» او دې ته ورته شعارونه د دې سبب شوي، چې زموږ هېوادوال فکر وکړي، د اوبو پر زېرمو ناست دي. خو داسې نه ده. افغانستان اوبه لري؛ خو دا اوبه له علمي تدابیرو پرته زموږ ورځنۍ اړتیا نه شي پوره کولی. د اوبو درلودلو او د ګټورې استفادې تر منځ لوی واټن شته. دا واټن په طالباني اداري او داسې اداره چې د مشرانو اساسي مساله یې ښوونځیو ته د تګ او نه تګ خبره وي، نه شي بشپړ کېدای. د اوبو استفاده او مدیریت پوهې او تخصص ته اړتیا لري. ولسي ملاتړ او مسوول نظام غواړي. ټولو ولیدل چې تېر شل کلن حکومت له پراخو تبلیغاتو سره سره بیا هم د پلازمېنې د اوسېدونکو لپاره د څښاک اوبو پر تیارولو برلاسی نه شو، کلیو او ښټیو ته د اوبو برابرول لرې خبره ده. هغه وخت لې تر لږه د اوبو د مدیریت هڅې کېدې. اوس چې طالبانو مدیریت او تخصص تکفیر کړي او اداري یې د ملایانو په پېتاوې اړولې دي، د اوبو او ډوډۍ ناورین ورځ تر بلې سر پورته کوي.

د افغانستان نفوس په چټکۍ په زیاتېدو دی او وړاندوینه کېږي، چې تر ۲۰۵۰ کال پورې به له ۶۰ میلیونو واوړي. د هغو کسانو شمېر چې له کلیو څخه د ښارونو بې اوبو او بې روزګاره څنډو ته ځي، د مسوول حکومت په نشتوالي او د داسې حکومت چې د تخصص ملاتړی نه دی، د سېل په شان به دوام وکړي. د اوبو زیاتې کارونې همدا اوس ښارونه له ناورین سره مخ کړي دي او د نه زغم وړ پایلې به ولري.

افغانستان د داسې هېوادونو په کتار کې دی، چې په څو را روانو لسیزو کې به د بې آبي له بدې سناریو سره مخ شي. زموږ نوم د یمن، قطر، عراق، کویټ، د شمالي افریقا د وچو هېوادونو او منځنۍ او مرکزي اسیا د هېوادونو تر څنګ دی، چې ډېری یې پر اوبو احتمالي جګړو او په خوړو اوبو د تروو هغو اړولو او د اوبو مصرف کمولو کې ساینسي څېړنې لپاره ځانونه چمتو کوي.

په داسې بحراني وضعیت کې، په افغانستان کې داسې ډله د واک پر ګدۍ ناسته ده، چې د اوبو په اړه یې ذهنیت یوازې په کاریز او چینې کې نښتی دی، له وچکالۍ سره د مبارزې لپاره د استسقا لمونځ یوازینۍ کارنده لار بولي او بغارې وهل هم له لوږې د ژغورنې لار.

د مسوول او ولسي حکومت د جوړولو لپاره په سلهاوو دلیلونه فهرست کېدای شي. له لوږې او تندې د هېواد ژغورل د دغو دلایلو په سر کې دي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ